# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| مسایل ایدیولوژیک | Ideological |
| --- | --- |

درویش وردک
۲۲ می ۲۰۱۶

## یوڅلویښتم مجلس(د خدای په دوستی کی)

بزرگوارشیخ عبدالقادرگیلانی(رضی الله تعالی عنه) فرمایلی:

پوه شه چی دټولو اشیاو حرکت اوسکون دعزّوجلّ خدای په اراده پوری تړاولری، هرکله که دالامردچالپاره ثابت شو، دشرک دباردرونډوالی به خلاص شی، خلک به هم له دی راضی شی، ځکه نوربه له نورو عیب جویی نکوی، دشرعی دامرخلاف له چاڅخه څه نه غواړی، بلکه تل یی دخلکو څخه هیله دهغه حدودوپه دننه کی ده، چی شرعی تعیین کړی، اودالهی حکم ،علم اوقضااوقدرباندی راضی دی، اوپوهیږی چی دخدای اراده دبندګانوپه هکله ددوی په غوښتنه بدلون نکوی، خدای مقدراومطالب دی،« لَایُسْئَلُ عَمَّآ یَفْعَلُ وَهُمْ یُسْئَلُونَ ». دادټولو هغومسلمانانو عقیده ده چی دخدای دقضااوقدرباندی موحد اوراضی دی داسی چی خدای غنی اوله ټولو څخه بی نیازه دی، ولی ګوری بنده ته چی بنده یی په ادعا کی صادق دی اویا کاذب.

رینښتینی محب ځان دهیڅ شی خاوند نه بولی اوهرڅه دخدای له لوری ګڼی،ځکه تملک اومحبت یوځای نشی سره جمع کیدای. دخدای صادقه دوستدار، ځان ،مال اوثروت اوخپل ټول شته دخدای په اختیارکی ورکوی، اوله ځانه سلب اختیارکوی. خدای په هیڅ کارکی نه متهم کوی، هرڅه چی دخدای له لوری ورته ورسیږی ورته خواږه اوګوارادی، پرته دخدای له لوری ټولی خواوی دځان پرمخ تړی. ای چی دخدای دوستی مدعی یی، ستا داحب حقیقت ته نشی رسیدای، ترڅوچی پرته دخدای له لوری ټولی خوای پرخپل مخ ونه تړی. ستا محبوب دخلکومینه اوحب ستا له زړه ایستلی، پس ددنیا په قید کی مه اوسه اوداسی دخدای په مینه کی غرق اوسه چی تل مجنون غوندی دده په یاد کی اوسی، ځکه مجنون دلیلی په عشق کی له خلکوسره پریکړون وکړ اوله وحشی ځناورو سره انس واخیست. آبادانی یی پرینښوله اوپه خرابو یی قناعت وکړ، دخلکودمدح اوذم څخه یی پاملرنه واړوله، دخلکو سکوت اوویناو ورته یوشان شوه، دخلکو رنځ او هوساینه ورته یوشان شوله. یوه ورځ ورته وویل شول: ته څوک یی؟ وویل : لیلی ،ورته وویل شول له کومه ځایه راځی؟ وویل:لیلی. ورته وویل شول:چیرته ځی؟ وویل : لیلی. پرته له لیلی یی نه لیدلی اوپرته دلیلی له خبرویی بله نه اوریدله، دلیلی دمینی څخه له هرډول سرټکونو اوملامتیو سره سره، منصرف نه شو.څومره ښه ویل شوی: «کله چی زړه په مینه ټینګ شو، نودخلکوخبری دسړی اوسپنی ټکول دی».

هرکله که دبنده زړه خدای وپیژانده، اوله هغی سره یی مینه شوه اوورته نیږدی شو، له خلکوبه په تیښته وی، له خوراک اوڅښاک اونکاح څخه به بیزاره وی، له آبادانی به په تیښته اوله ویرانوسره به یی زړه تړون پیداکړی، اودالهی قضا اوقدرسره به راضی وی.

لویه خدایه، مونږدخپل رحمت څخه مه محرومه وه،چی ددنیا اوجود په دریاب کی غرق کیږو. ای بښونکی بزرگواره، ای په ازل اوابد یوه، زمونږلاسونه ونیسه!

(ای دخدای بنده) هرچاچی په هغه څه چی وایم،عمل ونکړ، زماپه خبرونه دی پوه شوی. اوهرکله که یی عمل پری وکړ، نوپه هغه پوه شوی. کله چی زماپه نسبت حسن ظن ونلری، اوپه هغه څه چی وایم عمل ونکړی، پس څرنګه ویلای شی چی زما خبری دی درک کړی؟ ته دهغی وړی په څیریی چی زما پروړاندی دریدلی یی، اوهغه خواړه چی درته سفارش کوم نه خوری، پس څرنګه به موړشی؟! ابوهریره رضی الله تعالی عنه ، له رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) څخه نقل کوی چی فرمایلی یی دی: (مَنْ مَرِضَ لَيْلَةً وَاحِدَةً وَهُوَ رَاضٍ عَنِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ،صَابِراً عَلَى مَانَزَلَ بِهِ خَرَجَ مِنْ ذُنُوبِهِ كَيَوْمٍ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ)-« هرڅوک چی یوازی یوه شپه ناروغ شو اوپه هغه څه چی پری نازل شوی راضی شو، له ګناهونو څخه به پاک شی، داسی لکه په هغه ورځ چی له موره پیداشوی وی».هغه څه چی باید درته ورسیږی، هرومروبه ورسیږی، حضرت معاذ(رضی الله تعالی عنه) دپیغمبریارانوته(رضی الله تعالی عنهم) ته ویل:« راپاڅی، یوساعت مومن واوسو، یعنی یوساعت دایمان خواړه وڅکو،یوساعت دحق درحمت په درګاه کی ودریږو». ده دمسایلوشاتوته اشاره کوله، چی دیقین په سترګویی لیدلی.  هرمسلمان مومن ندی، اوهرمومن موقن ندی. اصحابوپیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) ته عرض وکړ، یارسول الله! معاذ مونږته وایی چی مومن اوسی! آیا مونږ مومنان نه یو؟ حضرت(صلی الله علیه وسلم) وفرمایل:« دعوا معاذاً وشانه »-(معاذته دعاوکړی).

ای دنفس اوشیطان اوهیلواودنیا بنده، ته دخدای اوصالحو بندګانوپروړاندی کوم قدراومنزلت نلری. څوک چی دآخرت پرستش کوی، دنیا ته پام نه کوی، نوربه نوددنیا پرستش کوونکی ته څرنګه عنایت وشی؟ وای پرتا! پرته له عمله به ستادویناواوڅربه وری سره څه کاروشی؟ ته درواغ وایی، اودخپل ځان په فکرریښتینی یی،  ته شرک کوی ولی تصورکوی چی موحد یی، باوجود ددغل اوناراستی، دځان په هکله نیک ګمان کوی. دما کاردری دوله تله(محک) لری چی دهغی په واسطه دخلکو نیک اوبد سره بیلوم، اوهغه عبارت دی له : کتاب، سنت اوزما زړه. چی ددریم په واسطه ښکلی اوبدرنګه سره بیلوم. ولی باید پوه شی چی زړه دی مقام ته نه رسیږی، مګردکتاب اوسنتوپه خالصانه پیروی سره.

عمل دعلم تاج دی، عمل دعلم نوردی، دوچنده صفا ده، دجوهردپاسه جوهردی. عمل په علم سره زړه پاکوی،  اوهرکله چی زړه پاک شی نوټول غړی به ورسره پاک شی. اودبدن روغتیا دزړه په روغتیا کی ده. هرکله که دغوښی داټوټه اصلاح شوه، ټول غړی به اصلاح شی، اودزړه روغتیا هم دسراوباطن په روغتیا اړه لری، چی هغه دخدای اوبنده ترمنځ رابطه ده. سِرالوتونکی ده اوزړه دهغی قفس دی،  اوزړه هم الوتونکی ده چی کالبد یی قفس دی، اوبالاخره بدن هم یوه الوتونکی ده چی قفس یی قبردی، اوهرڅوک به په ناچاره دی قفس ته ننوزی.

**«ربناآتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقناعذاب النار».آمین.**